## مطبوعاتي اعلاميه

### هر سياسي يا نظامي مشر چې د امريکا غلامي مني او د پاکستان تباه کوونکې ملگرتيا ورسره ساتي؛ په حقيقت کې زموږ د دين، امت او وسلوالو ځواکونو پر وړاندې خيانت کوي

پرويز مشرف به د پاکستان په تاريخ کې د خاين ابو رغال په شان ياد شي، چې د کعبې شريفې په لور يې د ابرهه لښکر ته لارښوونه کوله. د ناکام امريکايي اجنټ نواز شريف د حکومت له ړنگېدو وروسته په ۱۹۹۹م کال کې مشرف وويل: «مصطفی کمال – چا چې زموږ خلافت ړنگ کړ- زما ايډيال دی.» مشرف د امريکا په اشاره د پاکستان ټولې مهمې چارې او گټې دغه هېواد ته تسليم کړې. د مشرف خيانت په شاکولو، کشمير، د افغانستان په پاليسی، اټومي پروگرام، اقتصاد، داخلي او بهرني حاکميت او د انرژۍ امنيت په گډون په هره برخه کې څرگند دی. مشرف په يوې ټيلفوني اړيکې سره د افغانستان مسلمانان بې رحمه امريکايانو ته وسپارل؛ چې دا په حقيقت کې يو بې ساری خيانت دی. همدا مشرف و چې هوايي ډگرونه، هوايي دهلېزونه او ځمکنۍ لارې يې صليبي کفارو ته وسپارلې او پر افغانستان د بريد لپاره يې د ناټو د اکمالاتي کرښې امنيت ټينگ کړ. مشرف د هېواد د داخلي امنيت په له منځه وړولو کې د امريکا خصوصي نظامي سازمانونو ته د پښې اېښودلو اجازه ورکړه، چې په هېواد کې زهر وشيندي. هغه په کشمير کې د مجاهدو ډلو پر وړاندې خاينانه سختگيري وکړه او هلته يې د جهاد بنسټونو ته ضربه ورسوله. هغه هندوستان ته دا فرصت ورکړ، چې د کنټرول کرښې په ۷۴۰ کيلو متر فاصله کې دايمې ديوال جوړ کړي. پرويز مشرف حتا د پاکستان اټومي پروگرام په نښه کړ. مهم پوهان يې له دندو لرې او تقاعد کړل او د پاکستان د اټومي پروگرام جزيات يې امريکا ته وسپارل. د امريکا په لارښوونو مشرف د پاکستان په قبايلي سيمو کې د پښتنو جنگياليو پر وړاندې پوځي عمليات پيل کړل، چې په افغانستان کې د امريکايي اشغال پر وړاندې جهاد گډوډ کړي. مشرف امريکا ته په پاکستان کې د بې پيلوټه الوتکو د بريدونو اجازه ورکړه، چې په پايله کې يې ملکي وگړي او رښتيني جنگيالي ووژل شول. مشرف د «روڼ انده منځلاريتوب» تر نامه لاندې د پاکستان د سېکولر او لېبرال دولت جوړولو پروژه پيل کړه، ترڅو دولتي ځواک د لېبرالي اخلاقو د خپرولو او اسلامي ارزښتونو د لوټلو لپاره وکاروي.

د پرويز مشرف نوم به تل د مير جعفر او مير صادق له نومونو سره يو ځای يادېږي، ځکه د مسلمانانو خاوره يې د امريکا سفير ته تسليم کړه. سلگونه مجاهدين يې د امريکايي ډالرو په بدل کې وپلورل او زموږ خور او لور عافيه صديقي يې د هغې له بې گناه ماشومانو سره يو ځای امريکا ته وسپارله. مشرف د پلازمينې په زړه لال مسجد کې په سلگونو پاک لمنې لورگانې په سپين فاسفورس وسوځولې.

له دغو ټولو جنایتونو وروسته مشرف یوازې په دې ګناه محکوم دی، چې د بشر په لاس جوړ شوی قانون یې تر پښو لاندې کړی؛ ترڅو د هغه تر ټولو ناوړه جنایتونه پای ته ورسوي. په داسې حال کې چې اوسنۍ سیاسي او نظامي رهبري په ټوله مانا د پرویز مشرف لیدلوری او فکر تعقیبوي. دا ښکاره ده چې په دغه سېکولر نظام کې هېڅ محکمه د مشرف د جرمونو لپاره عدالت نشي چمتو کولی. هغه ته به ان شاءالله د خلافت محاکمه خپله رښتینې سزا ورکړي او هغه څه لا ډېر سخت دي، چې دی به د قیامت په ورځ ورسره مخ کېږي. نو له همدې امله اوسني خاینین باید پند واخلي؛ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[﴿إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ * لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ * وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا هُمُ الظَّالِمِينَ﴾**

[الزخرف: ۷۴-۷٦]

***ژباړه:*** *له شک پرته مجرمین به د تل لپاره د دوزخ په عذاب کې وي. عذاب به یې هېڅکله نه کمېږي او په هغه کې به په ناهیلۍ سره پراته وي. موږ پر هغوی ظلم نه دی کړی، بلکې هغوی خپله پر ځان ظلم کړی.*

**حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ. ق د ربیع الثاني ۲۱مه**

**۲۰۱۹م کال، چهارشنبه، د ډسمبر ۱۸مه**

**ګڼه: ۳۱/۱۴۴۱**